AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۱۳

# لویه تلوسه

## څلوریشتمه برخه

### د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

### ترکمنستان سره د اوبو ډیپلوماسي

ترکمنستان سره د اوبو د ډیپلماسی اساس هماغه دی چې له نورو هیوادونو سره دی. د ایران د ګټو ساتنه، اوبو زیرمو ته لاسرسی او ښه ګاونډیتوب سوله او دوستي او سیمه ییزه نیکاومنه کډه پراختیا.

۱ ـ افغانستان د هلمند او هریرود له لاری ایران ته اوبه رالیږي او کومی اوبه له ایران نه تر لاسه کوي ( افغانستان هریرود- مرغاب ـ آمو دریا او ... ترکمنستان ته اوبه لیږي او له ترکمنستان څخه هیڅ اوبه نه ورځي )

۲ ـ ایران ترکمنستان ته اوبه ورکوی خو سومبار برخي څخه پرته چې اترک سره یو ځای کیږي له ترکمنستان اوبه نه ترلاسه کوي. پدی اساس مونږ افغانستان څخه اوبه اخلو او ترکمنستان ته اوبه استوو.
په نه چندان نږدی راتلونکی کې به :

۳ ـ افغانستان او ترکمنستان دواړه هیوادونه به ایران لپاره په ځانګړي توګه د ایران ختیځ لپاره د اوبو د ترانزیت هیوادونه وي.. زمونږ ډیپلماسي به ترکمنستان په اړه په لنډ مهاله کې د اوبو ورکول او په اوږد مهاله کې د اوبو ترلاسه کول وي. یاني ترکمنستان کولای شي په راتلونکی کې مونږ ته د اوبو په ترانزیت کې ټاکونکی(کلیدي) رول ولوبوي. هغه اوبه چې بایده دي له مرغاب، آمو سیند ، سیر دریا، ایرتیش او اُب او ولګا او شاید یو وخت هم له ینی سئی او لُنا راوړل شي.
نو ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسي کېدَی شي په دریو لنډ. منځي او اوږد مهاله پیرونو(پړاونو) کې تعریف شي. ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسی ته باید د یوه اوږد مهال لور لید له مخي او په دې موخه چې دغه هیواد به مونږ ته د اوبو ترانزیتولو یو عمده هیواد وي. وکتل شي. او که چیری ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسي ته لنډمهاله او جغرافیه یي لیدلوري له لحاظه ولیدل شي، ښایي له سختو سلبی سیاستونو سره نغښتي وي. دغه ډول ډیپلوماسی کیدی شي مونږ، له آمو دریا، ایرتیش، ولګا او نورو اوبو څخه د ګټې اخیستو اوږد مهاله موخو ته په رسیدو کې، له ستونځو سره مخامخ کړي.

#### وضعیت په اوسنیو شرایطو کې څنګه دی؟

#### ایران او ترکمنستان ترمنځ ګډ رودونه(سیندونه)

د ایران د څمکي لوړ موقعیتونه او ترکمنستان پر لوري د ځمکو ځوړوالی په دلیل هیڅ یو رود ترکمنستان څخه ایران خاوری ته نه راداخلیږي ټول کوشني رودونه د ایران خاوری څخه سرچینه اخلي او ترکمنستان ته ځي. سومبار په څېر د اترک د اوږده سیند څیني ښاخونه ترکمنستان خاوری څخه سرچینه اخلي او اترک رود سره یو ځای کیږي او د ایران او ترکمنستان ګډه پوله جوړوي . یانی په عملی توګه سومبار هم ایران خاوری ته نه ننوځي بلکې د اترک پوله جوړونکي سیند ته تویږي(ورګډیږي).
د خراسان په ختیځ کې له هریروده تر اترک پورې، کوشني رودونه له کپه داغ غرونو، چې د رضوی او شمالی خراسان په شمال کې واقع شوي، سرچینه اخلي.
د خور رود – جهجه کلات پیچومي څخه – صندوق شکن .
د قره تیکان رود له کلات ژرف غرونو څخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د کلات چای او قره سو رودونه له ژرف غرونو څخه
ارچنګاان رود له هزار مسجد څخه
لاین رود له هزار مسجد څخه
د زنګلانلو شمسی خان رود د درګز له الله اکبر غرونو او ریشخوار غرونو څخه
دغه رود شاید د ایران د ګډې پولې یوازینۍ (یو ډېر استثنایی) رود وي لومړی ترکمنستان ته ننوځي او د ترکمنستان پولي څېرمه سیمو له څړوبولو وروسته په لطف آباد کي بیرته ایران خاوری ته داخلیږی او د ایران ځمکي خړوبوي او بیا د سیلابونو راوتلو په مهال ترکمنستان خاوری ته ورننوځي.

درونګر رود له الله اکبر غرونو څخه:
فیروزه رود له غلامان غرونو څخه.
د ایران د سومبار رود د بجنورد له شمال غلامان غرونو څخه سرچینه اخلي د ایران او ترکمنستان ګډه پوله جوړوي او بیا ترکمنستان خاوری ته ننوزي. د ترکمنستان سومبار څانګه (ښاخ) د ایران سومبار څانګي سره یو ځای کیږي او بیا وروسته دواړه په پات سیمه کي اترک سیند سره یو ځای کیږي. اترک سیند لدې ځایه تر حسینقلی خلیج پوري د ایران او ترکمنستان ګډه پوله جوړوي. د چندیر رود چي د سومبار څانګي سره یو ځای کیږي.
د پام وړ ده چي دغه ټول رودونه د آمو دریا، اینیش، آب او ولګا سیندونو او حتی هلمند په وړاندي کوشنی ویالي دي چي پرته له اترک د هیڅ یوه منځنی حجم(دبی) بې په ثانیه کي یو متر مکعب ته نه رسیږي.. خو په بیابان کي یو څاڅکی اوبه هم دارو دي. په نړیوالو اړیکو کي د یوې کوشني چیني تکلیف هم باید مشخص شوی وي لکه څنګه چي شوروی سره په (۱۹۲۱) کي زمونږ اړیکو کي د ګلریز چیني د اوبو برخلیک شوروی لپاره په هره ثانیه کي د ۱۰ لیتر ونډه مشخص شوي ده.
په ځینو پولیزو رودونو کي چي د اوبو غټه برخه یې د ایران له خاورې تامینیږي لکه زنګلانلو د شوروي او بیا وروسته د ترکمنستان ونډه ۶۰ سلنه او د ایران ۴۰ سلنه ده.
۱۹ مه پیړی او د شلمی پیړی پیل د قاجار دوره د ایران کمزورتیا او د روسیې استعماری امپراتوری د قدرت وخت ؤ . هغه روسیه چي د منځنی آسیا په نیولو او د مرکزی آسیا د قامونو په اېلولو اوآراملو لګیا وه. روسېې سره له جګړو او د ګلستان او ترکمنچای له قراردادونو وروسته، د ایران هغه وخت دولت د ایران دیپلماسی د کمزورتیا له وجهی نابرابرو قراردادونو ته غاړه کېښوده. هغه رود چي غټه برخه یې ایران خاوره کي د ننه تامینیږي، نشي کولی دخپلو اوبو تولیدي کچې سره معادله ونډه ولري. په دې دوره کي شورویان ان د ګلریز چیني لپاره هم د ۱۰ لیټرو اوبو ونډې قرارداد لري، یانی هغه هیواد چي په ثانیه کي د ۸۰۰۰ مترو مکعبو څخه لوړ حجم (کچ/ دبی) درلودنکی ولګا او هم د آب او ینی سېنې او لنا په څیر سیندونو خاوند دی. کله چي د ګډپولي رودودونو حقابی ټآکلو لپاره د پروتوکولونو او د ګډ کمیسیون د فعالیتونو سندونو ته وکتل شي، پوهیږو چي د کمیسیون د ګنو ناستو وخت د اوبو د همدی ۱۰ لیتره ونډې لپاره وقف شوي دي.
ترکمنستان د تزاری روسیې او د شوروي د پولی د قراردادونو وارث دی. ښکاري داسی چي په لنډ مهاله ډیپلماسی کي (هم مهالیز پلوه او هم د جغرافیی لید لوري له مخي ) باید د ځینو رودونو په باب د ایران د اوبو ونډې زیاتولو په موخه مذاکری پیل کړو.
لکه څنګه چي یادونه وشوه له نیکه مرغه د هریرورد قرارداد(!) اصلاح شوی دی او په نورو رودونو کي یې د ایران د اوبو ونډې سمون او اصلاح او همکاریو لپاره زمینه برابره کړی ده .
په پولیزو قراردادونو کي پولیزو رودنو کي د اوبو وېش او سنجش(اوب وېش او میچ) ځای په ایران خاوره کي څو کیلو متره د ننه لیدل شوی دی. موجودو قراردادونو له مخې مونږ نشو کولی د اوبوېش (مقسم)ځای او د پولي د فاصلی په حد کي د رود له اوبو څخه نادوده (نامتعارفه) اوبه واخلو، یا د بند په جوړولوسره اوبه منحرفی کړو او یا له اندازی زیاتي اوبو واخلو. د لوی خراسان شمال یانی د رضوي خراسان شمال او شمالی خراسان او د ګلستان ولایت شمال د اترک په څنډه کي د اوبو له سخت کموالی سره مخامخ دي .

**کشف رود دشت چي مشهد دشت یې هم یوه برخه جوړوي هم د اوبو له جدي کمښت سره مخامخ دي. د قوچان، شیروان او قاروج دشتي د ځمکي لاندی اوبزیرمي سطحه ښکته کېدو سره مخامخ ده.** د مشهد ښار په شمال کي کارده بند، طرق د مشهد په سهیل ختیځ کې، تبارک په قوچان کي، بارزو او شورک په شیروان او شیرین دره کي تر ډېره بریده په ښارونو کي د څښاک اوبو تامینولو په موخه **جوړ** شوي ول. د څښاک اوبو ترڅنګ د کرکیلي اوبه هم برابروي. په مشهد دشته کي د ارداک بند او درګز سیمه کي درونګر بند د جوړیدو په حال کي دي. د دغو بندونو اصلی موخه دا ده چي د کرکیلی د حقابی پاتی (مازاد) اوبه د مشهد او درګز ښار د څښاک لپاره ولګول شي. خو په عمل کي به د کرنې حقابه هم د ښارونو په پراخېدو سره ورو ورو د څښاک اوبو په ګټه کسر شي. خو یاد مو وي چي د دې ټولو بندونو ظرفیت د دوستی له بند پرته په کال کي ۳۰۰ ملیون متر مکعب ته نرسیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دغو بندونو جوړیدل هغو منفی نظریاتو برخلاف چې په دې اړه وراندی کیږي، په ټوله کې ګټور دي. د سیلابونو د راوتلو او خسارو مخه یې ډپ کړې ده. د ښارونو د څښاک اوبو یوه برخه یې تامین کړې ده ، او د خپلو وروستیو اوبو یو شمیر کلیو د کرنې لپاره یې تنظیم شوې اوبه چمتو کړې دي. ښکاره ده چې د بندونو د ښکتنیو ( کوزنیو ) پرتو کلیو د حقابو ټاکنې ډول ستونځمن دی. د شیروان په څیر د یوه بند ټوله حقابه یې ښکتنیو یو څو کلیو ته ځانګړې کړې ده او نور کلی یې له حقابی محروم کړي دي. د حقابی ټاکلو دغه توګه، سم کار نده. له بندونو څخه زمونږ د حقابی ټاکنې سیاست، باید د کرهنې د ثابتې حقابی، د سیلابونو په حقابی او د زهاب (د چینو اوبه - نهر) پر بنیاد وي. کله چې بند شتون نه لري یو شمیر کلي له تلپایه اوبو ګټه اخلي یو شمیر کلي د کرهنیپلښتیو له اوبو یا د رودونو سرچینو څخه ګټه اخلی او یو شمیر کلی هم د رودونو له سیلابونو کار اخلي. د بندجوړولو ګڼشمیر سلاکار مهندسین دحقابی ټاکنې په تولو مواردو کې، هغه کلي یې د حقابی لرونکو په عنوان معرفی کړي دي چې له دایمی روانو اوبو یې ګټه اخیسته. لدې کبله یو څو کلي آباد شوي او څو کلي د اوبو له سختې کمی سره مخامخ شوی دي. د حقابی ټاکلو په دغه ترتیب کې نوې کتنه باید د بریښنا وزارت د کورنی سیاستونو برخه وي. یاني د بندونو جوړونه لازمه ده خو حقابی مسلو ته نه پاملرنې، ټولنیزې ستونزې او ژوند چاپیریال ته نه پاملرنې ګڼشمیره ستونځې را ټوکولي دي.

**اترک رود:**

اترک رود سیلابی ځانګړنه لري چې په خراسان کې له کپه داغ غرونو سرچینه اخلي او له چات سیمې د ایران او ترکمنستان پوله جوړوي. وروسته له هغه د ترکمنستان جمهوریت خاوری ته ورننوځي او په حسنقلی خلیج کې خزر بحیری ته توییږي. اترک د ۶۷۰ کیلو متره په اوږدوالی د ایران پنځم ستر سیند او د ترکمنستان تر ټولو اوږدوانه رود دی. اوبه یې د ډیر لګښت له امله، یوازې سیلاونو په وخت کې بحیری ته رسیږي..

د اترک مهمی څانګې : تبارک، قلچق- شیروان، شورک، شیرین دره، دربند، امند، کال ایمانی، اینچه، ګرماب، خرتوت، سومبار، چندیر، نارلی، اَجی سو، قره یتیم، کال قره حجن(قره قوچان)، کلو قرب(کوله قورپ)، نحیب (نجف)، آق بند او ماسن،څخه عبارت دي.. د طبیعی او سیاسی جغرافیې له مخې اترک کولای شو په درېو برخو وویشو .

- داخلی اترک:

کورنی اترک رود د ایران د یوه ډیر اوږده رود په عنوان، قوچان ته نږدې لوړو (عمارت غرونو) څخه سرچینه اخلی چې د قوچان، شیروان دشتو له خړوبولو وروسته او هغه سره د څو مهمو څانګو له یو ځای کېدو وروسته د رضاآباد له سیمې تیریږي او غریزو تنګیو ته ورننوځي . بیا وروسته له استاد کلی څخه مانه دشتې او سملقان ته داخلیږي.

پاسنَی یا علیا اترک چې کابو ۶۲۱۳ کیلومتر مربع مساحت رانغاړي او د رضا آباد له سیمې څخه تر قازانقایه پورې منځی اترک نوموي چې د حوزې مساحت په دې برخه کې ۱۶۴۱۶ کیلومتر مربع دی . دغه رود له قازانقایه څخه له تیریدو وروسته د خزر سمندرګې تر ساحلی دشتو پورې د کوزنی یا سفلی اترک په نوم پیژندل شوې دی چې د حوزی مساحت پدې برخه کې کابو ۸۵۹۷ کیلو متر مربع دی، چې په چات کې د ترکمنستان د سومبار رودخانه هم هغه سره یو ځای کیږي.. دغه رود د څمکې مخ د لږ ښکته والی (ځوړوالي) له امله اینچه برون برخې څخه له تېرېدو وروسته په دشته کې خوریږي چې نتیجه یې د الاګل، الماګل او تنګلي په څېر د جهیلونو تشکیلدل دي چې په پای کې د حسنقلی په خلیج کې (د اوبو لوړیدو په صورت کې) خزر بحیری سره یو ځای کیږي .

- **بهرنی اترک (د ترکمنستان د سومبار سیند):**

سومبار(سمبار): یو تروه ( مالګین ) رود دی چې ترکمنستان کې کپه داغ له لوړو څخه سرچینه اخلی او له ترکان، چندر او سومبار درېو څانګو (ښاخونو)څخه تشکیل شوی دَی او چات ته نږدې اترک سره یو ځای کیږي.

- **ګډ اترک (پولیز اترک):**

ګډ اترک رود د ایران او ترکمنستان په پوله کې له چات هیدرومتري تمځي څخه پیلیږي او په خزر بحیره کې پای مومي؛ د دې رود اوبه اینچه برون او تنګلي برخې څخه له تیرېدو وروسته د پل ځارځي په سیمه کې د اوبوبش سیستم له لارې، د دواړو هیوادونو د اوبو ونډه بیلیږي چې د ایران د اوبو برخه کانال له لاری الاګل جهیل ته او بیا وروسته بحیری ته توییږي.

په چات ناحیه کې د اترک رود یوه برخه، له اینچه برون وروسته په ۱۸۸۱ کال کې د آخال د قرارداد په موجب د قاجاری ایران او د روسیې امپراتوری رسمي پوله شوه . په ۱۹۲۶ کال کې د ایران او شوروی ترمنځ د قرارداد له مخې وټاکل شوه چې د دغې رودخانې کم له کم ۵۰ ٪ اوبه ترکمنستان خاوری ته واردې شي.(۲۵)

۲۵ ـ هریرود سیندڅخه تر خزر بحیری پوري دسرحد په اوږدو کې واقع شوي له سرحدي سیند او اوبو څخه کار اخیستو په اړه د ایران او اتحاد جماهیر شوروي ترمنځ د قرارداد شپاړسمه ماده: د اترک سیند ټولې اوبه چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ایران او شوروی متحده جمهوریتونو ترمنځ په سرحد کې جاري دي د متعاهدو لوريو ترمنځ په دوو مساوي برخو ويشل کيږي. د متعاهدينو لوريو فني مامورين به سرحد څخه د څورلس ورست [يو ورست څه د پاسه زر متر] په اوږدو کې د اترک رود د اوبو مقدار د ایران په خاوره کې د اوبو د جريان په مخالف لوري کې وټاکي. د اوبو هغه ټول مقدار چي د نوموړي ټاکني په پايله کې حاصليږي هغه مقدار اوبه دي چي بايد په دوو برابرو برخوږ وويشل شي. د ایران دولت تعهد کوي که چيری قرارداد له لاسليک کيدو وروسته بې په خپله خاوره کې په اترک رود د پاسه د اوبو زيرمه کولو لپاره د اوبو فنی تاسيسات جوړ کړل، پريږدي د اوبوّني په موسم کې د مترولوژيکي صورتونو له مخي هماغه مقدار اوبه په هماغه ځای کې چي د اترک رود وبش پيليږي جريان وموميي چي د يادو ساختمانونو نشتوالي په صورت کې بې هم جريان درلود. د ایران دولت به خپل تصميم، د نوموړو ساختمانونو له جوړونی مخکی، شوروی اتحاد لوری ته اطلاع ورکوي .




**د اترک او سومبار رود حوضه**

نوربيا

**د سومبار رود حوضه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په څير و لولئ